بسم الله الرحمن الرحيم

**امریکا په افغانستان کې ترکیې ته نوی مسوولیت ورسپاري!**

**خبر**

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر، مولود چاوش اغلو د بین الافغاني خبرو په پرانیست غونډه کې په وډیویي پیغام کې وویل: «بین الافغاني خبرې د سولې لپاره په حقیقت کې یو واقعي او تاریخي فرصت دی، هیله ده چې دغه خبرې بې پایلې نه شي او غوره ګټه ترې پورته شي.» دغه راز هغه وویل: « موږ هیله لرو چې دغه خبرې د عادلانه او دایمي سولې لامل وګرځي او افغانستان د یوه دموکراتیک هېواد او حاکمیت مالک شي.» نوموړي ټینګار وکړ چې افغانستان نن تر بل هر وخت د نړیوالې ټولنې ملاتړ ته اړتیا لري همدارنګه زیاته یې کړه چې هېواد یې چمتو دی، چې د بین الافغاني خبرو د یوې ناستې کوربتوب وکړي.

**تبصره**

لکه څرنګه چې ترکیې ته په سوریه، لیبیا او ځینو افریقایي هېوادونو کې ښکاره ونډه ورکړل شوې، په افغانستان کې هم ترکیې ته نوی مسوولیت ورکول کېږي. همدا راز د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر د بین الافغاني خبرو په پرانیست غونډه کې چې د شنبې په ورځ ۲۰۲۰/۱۲/۹ په قطر کې د امریکا دولت تر څارنې د افغانستان لاسپوڅي دولت او طالبانو تر منځ په قطر کې پیل شوې، خبرې وکړې.

دغه خبرې د امریکا د څو میاشتو د هڅو پایله وه، څو طالبان د مذاکراتو مېز او د سولې هوکړې ته جذب کړي. له ډېرو لګښتونو چې په افغانستان کې پکې غرق دي، وژغورل شي. دغه پالیسي د امریکا تجربه لرونکي دیپلمات زلمی خلیلزاد، چې په خبرو کې یې ډېره ونډه لرله، رهبري شوه. لکه څرنګه چې هغه له امریکا سره د افغانستان په اشغال کې ونډه درلوده.

امریکا غواړي ترکیه د ایران او پاکستان په څېر چې د بین الافغاني خبرو له پیل د امریکا تابع وو، ښه راغلاست ورته وو ایي او هغوی د افغانستان د ننداري په لېست کې د لوبغاړو په توګه ګډ کړي، په داسې حال کې چې د طالبانو خوځښت د افغانستان له دولت سره مخکې له خبرو له ناستې ډډه کوله. ځکه طالبان د افغانستان دولت د امریکا د لاس نانځکه بولي.

امریکا ترکیې ته اړتیا لري څو له پاکستان سره یو ځای په طالبانو فشار راوړي، تر څو طالبان د افغانستان له لاسپوڅي دولت سره مذاکره وکړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو چې د پرانیست غونډې مالي ملاتړ یې کولو، داسې وویل: «زه فکر کوم دلته ټول پوه دي چې ډېرې هڅې او قرباني ورکړل شوې

، څو موږ داسي يوې لحضې ته ورسېږو او ټوله نړۍ د دغه خبرو د کاميابی هيله لري او ددې کار لپاره په تاسو حساب کيږي.»

امريکا هيله لري چې د مذکراتو لړۍ طالبان پر مخ بوځي او د دغه مهمې کړنې لپاره ډېرې هڅې کوي، چې يوه يې هم په ترکيه فشار دی چې په بين الافغاني خبرو کې ونډه ولري.

د دغه هېوادونو دنده دا وه چې د امريکا له ګټو يې ملاتړ نه وی کړی، څو امريکا مجبوره شوې وای چې له افغانستانه پرته له کومې هوکړې، پرېښانه او ماتې وتلې وی. د طالبانو لپاره غوره دا وه چې دغه خبرې نه وای منلې. ځکه د دغه ډلې ځواک او هيبت د خبرو په نه منلو کې و؛ هغه خبرې چې د امريکا تر سيوري او تصميم نيونې لاندې دي.

پاکستان، ترکيې او ځينو نورو اسلامي خاورو، چې له مذاکراتو يې ملاتړ درلود، بايد د امريکا د فشار په لوبه کې د طالبانو پر وړاندې نه وی يو ځای شوي. امريکا کمزورې ده او يوازې پاکستان، ترکيه او ايران دي چې د امريکا موخې او ټاکل شوې نقشې مني او ځواک يې لا پياړوی کوي.

**ليکونکی: احمد الخطواني**

**ژباړن: الهام پردېس**